**مطبوعاتي اعلاميه**

**د ډنمارک دولت د اسلامي ارزښتونو پر وړاندې په جګړه کې ماتې وخوړه**

په دې وروستیو کې د دولت په سپارښتنه یوه لویه کلنۍ سروې خپره شوه، چې مسلمانانو پکې د جنسیت او عمر له نظره نیولو پرته، پر غربي سبک ژوند رد کړی دی. تش په نوم «د تابعیت سروې» تر عنوان لاندې له زرګونو مسلمانانو پوښتنه شوې، چې «ایا دې ته غاړه ږدې چې لور/ زوی یې له واده مخکې پر جنسي مقاربت اخته شي» اکثرو د «نه!» ځواب ورکړی دی.

په دغه څېړنه کې هغه مسلمانان هم شامل وو، چې له ۱۸ یا هم له دې څخه ټیټ عمرونه یې درلودل، دوی ته هم بد اخلاقي د منلو وړ نه وه. دا څېړنه ثابتوي، هغه شمېر ځوانان چې په ډنمارک کې زیږېدلي، په اختیاري توګه د اسلام باعزته ژوند غوره بولي. سربېره پر دې، د زنا په اړه هم د ښځینه او نارینه وو تر منځ په نظر کې کوم توپیر نه لیدل کېده.

د تشبیه وزیر په ډېرې بې شرمۍ سره د دغې څېړنې په اړه نظر څرګند کړی او «د ښځو په اړه ظلم» په خبرو کې یې لاسوهنه کړې ده، په داسې حال کې چې دغه څېړنه تاییدوي، چې دا د مسلمانې ښځې انتخاب دی، چې له فضیلت څخه ډک ژوند خوښوي، نه له شرم څخه ډک، لکه څرنګه چې مخکینیو څېړنو هم ښودلې ده!

له حکومت څخه لاره ورکه ده او پر مسلمانانو خپل مبتذل نظر تحمیلوي او په دې توګه له هرې وسیلې کار اخلي. ان د «لیسې ښوونکي او د فوټبال مربیان» یې هڅولي وو، چې د اسلامي کلتور پر وړاندې په «ارزشي جګړه» کې برخه واخلي. په دې سره، د ذهن د مهارولو ارزونې کال په کال ښیي چې مسلمانان تر اوسه پورې له خپل اسلامي هویت څخه لاس نه اخلي.

مسلمانان سربېره پر دې چې په یو سیکولار هېواد کې دنیا ته راغلي او هلته لوی شوي دي، له قبیح ژوند څخه ډډه کوي؟ ځواب یې اسانه دی: د پاک فطرته انسان پوهېږي چې عزتمند ژوند په بشپړ اسلام کې دی. اسلام ښځو ته په

اسلامي واقعي ارزښتونو لکه حیا، نجابت، وقار، فضیلت او په ډېر درناوي ښځو ته قایل دی. دا ارزښتونه په هغه فرهنګ کې نشته، چې د ډنمارک هېواد غواړي پر مسلمانانو یې تحمیل کړي.

که د ډنمارک هېواد دومره مغرور وي او باور لري چې کولای شي مسلمانان اړ کړي چې خپل اسلامي ارزښتونه پرېږدي، یوازې یو شی شته چې ووایي: دا هېڅکله نه کېږي!

له بل پلوه، موږ تمه لرو چې د ډنمارک هغه شمېر خلک چې د غربي ژوند سبک پرېږدي او اسلام غوره کوي، زیاتوالی ومومي.

**د حزب التحریرـ ډنمارک مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د جمادي الاول ۵مه**

**۲۰۲۱م، د ډسمبر ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۰۵/ ۱۴۴۳**